بسم الله الرحمن الرحیم

## د کډوالو مړینه

د ۲۰۲۲ کال د نومبر ۲۵ مه د هغو ۳۱ کډوالو تلین دی چې په ټوپي کښتۍ کې له انګلش یا مانش کانال څخه تېرېدل؛ د دغو کډوالو اکثریت مسلمانان وو.

دا په یاد کانال کې په تېرو ۳۰ کلونو کې تر ټولو بده سمندري پېښه ګڼل شوې چې د پېښېدو شرایط یې لا ډېر د اندېښنې وړ دي.

د ژغورنې رضاکار، چارلز ډېواس د پېښې په سیمه کې له لومړیو حاضرو کسانو و. ده سلګونه داسې کوچنۍ کښتۍ لیدلې چې له خپل حد زیاتې بار شوې، د چلولو وړ نه دي او له هغه ګڼ مسیر څخه تېرېږي چې د لویو باروړونکو کښتیو لپاره دی. بدې هوا، څپو او جریانونو له کلونو راهیسې د سلګونه خلکو ژوند اخیستی، خو د نومبر د ۲۷مې پېښه ډېره وحشتناکه وه.

کښتۍ بې ثباته شوه او یکې سپاره کسان یوې شول چې په خطر کې دي. د ځان ژغورلو لپاره یې ټلیفوني اړیکې ونیولې. کښتۍ د فرانسې په اوبو کې وه؛ خو فرانسوي چارواکو ونه غوښتل چې د ژغورنې مسولیت یې واخلي. کډوالو ته وویل شول چې د انګلستان د ژغورنې خدمتونو ته زنګ ووهي؛ د انګلستاني لوري لخوا پر دې ټینګار کېده چې کښتۍ د فرانسې په اوبو کې ده او له مرستې یې ډډه وکړه. د یو بل پر غاړه د مسولیت غورځولو دغې لوبې څو ساعته ونیول؛ تر دې چې یخنۍ ۲۷ واړه کډوال یو یو وواژه.

په دې کښتۍ کې ۷ ښځې او ۳ ماشومان وو. یوه ښځه امېندواره وه. په دې ټولو کې یو کس هم د دې وړ ونه ګڼل شو چې مرسته دې ورسره وشي.

نن ورځ د هغو کسانو شمېر لا زیات شوی چې له افغانستان، سوډان، ایراق، اریټریا او نورو سیمو څخه د جګړو او لوږې په سبب تښتي او په کوچنیو او د سمندري سفر لپاره نامناسبو کښتو کې له فرانسې څخه برېټانیا ته په دې موخه ځي چې ګوندې پناه واخیستی شي او د ښه ژوند فرصتونه ورته برابر شي. قاچاقبران بې رحمه دي؛ د داسې کډوالو راپورونه شته چې کله د ډېر بار او ناخوندیتوب په سبب په کښتۍ کې له سپرېدو انکار کوي، قاچاقبر یې ماشومانو ته وسله نیسي، وېروي یې او اړ باسي یې چې خپل سفر ته دوام ورکړي. پیسې تر اخلاقیاتو وړاندې ګڼل، د دولتونو او جنایتکارو ډلو تر منځ یوازینی ګډ ارزښت او هڅوونکی عامل دی.

د دغه ناوړه وضعیت سبب مریض نشنلستي ارزښتونه دي. کډوالو ته د هغو انسانانو په سترګه نه کتل کېږي چې له استعماري جګړو او د طمعې اقتصادي پالیسیو څخه ځورېږي.

غربي هېوادونه په اسلامي خاورو کې د ستونزو سبب کېږي او بیا تمه لري چې خلک یې دې کښې او په تمه دې شي چې بمونه او لوږه یې ووژني. د کپیټلېسټي هېوادونو په لیبرال ارزښتونو کې د همجنسپالو بشري حقونه تر دغو انسانانو ډېر ارزښت لري.

د خلافت په نشتون کې یوازې دومره کولی شو چې نورو دغه ډول پېښو او د هغو تلین نمانځلو ته په تمه شو. خلیفه به هېڅکله دا و نه مني چې یو اړ انسان دې پرېښودل شي چې مړ شي. د شریعت غوره ارزښتونه

دې ډول حالت ته اجازه نه ورکوي او د الله سبحانه و تعالی پر وړاندې د یوه انسان ژوند تر ټولې نړۍ ارزښت لري.

**(مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ)**

***ژباړه:*** *«له همدې امله موږ بني اسرائیلو ته فرمان ورکړی و چې، چا چې یو انسان د وینې له بدلې یا په ځمکه کې له فساد خورولو پرته (په ناحقه) وواژه، داسې ده لکه ټول انسانان یې چې وژلي وي او چا چې څوك له مرګه وژغوره، داسې ده لکه ټول انسانان یې چې ژغورلي وي." - خو د هغو حال دا دی چې زموږ پېغمبران پرلپسې له روښانه لارښوونو سره ورته راغلل؛ سره له دې هم د هغو زیاتره کسان په ځمکه کې زیاتی کوونکي دي.» [مائده:۳۲]*

د مسلمان ژوند او عزت به تر هغه خوندي نه شي، تر څو پر ځمکه بشري نظامونه حاکم وي. یوازینی د باور وړ حللاره د خلافت بشپړ راتګ دی.

له ابومریم الازدي څخه روایت دی چې وایي: کله چې د معاویه لیدو ته ورغلم، راته ویې ویل: «په راتلو دې څومره خوشاله کړو اې د فلاني پلاره.» (عربان په دې ډول حالاتو کې همداسې اصطلاح کاروي). ما ورته وویل: «د دې لپاره راغلی یم چې یو حدیث درته ووایم چې اورېدلی مې دی او غواړم ترې خبر دې کړم. له رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي چې فرمایي»:

**"مَنْ ولَّاهُ الله عز وجل شيئًا مِنْ أَمْر المسلمين فاحْتَجَبَ دُونَ حاجَتِهم وخَلَّتِهِم وفقرهم، احْتَجَبَ الله عنه دون حاجَتِه وخَلَّتِهِ وفقره"**

***ژباړه:*** *«کله چې الله عزوجل یو چا ته د مسلمانانو د یوې چارې مسولیت ورکړي او هغه یې اړتیاوو، فقر او ستونزو ته رسیدګي ونه کړي؛ الله تعالی د هغه کس اړتیاوو، فقر او ستونزو ته پام نه کوي. (نو معاویه بیا یو کس وټاکه چې د خلکو ستونزو ته رسیدګي وکړي)» [ترمذي]*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**عمرانه محمد**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**